Ministry of Education

د پوهنې وزارت

وزارت معارف

د ښوونې او روزنې معینیت

د دفتر امریت

/ /۱۴۴۴ هـ ق

د پوهنې وزارت درانه مقام ته!

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

**موضوع: د ښځینه ښوونځیو د ۷-۱۲ ټولګیو پورې زده کوونکو ته د پورته ټولګي ارتقا**

څرنګه چې د پوهنې وزارت درانه مقام ته څرګنده ده د هیواد په سرو سیمو کې ښوونیز کال مخ پر ختمېدو ده او اړینه بلل کیږي تر څو د ښځینه ښوونځیو د ۷-۱۲ ټولګیو پورې زده کوونکو ته د پورته ټولګي د ارتقا لپاره لازم تدابیر ونیول شي. دا چې د پادو ټولګیو زده کوونکو په اړه د اسلامي امارت پالیسي تر کار لاندې ده او نتایج یې لا تر اوسه نه دي واضح شوي او همدارنګه د پادو ټولګیو ښځینه زده کوونکو د پورته ټولګي ارتقا په اړه د پوهنې وزارت په اصولي اسنادو کې هیڅ کوم وضاحت او کرښلاره نه ترسترګو کیږي نو په هم دې موخه د پوهنې وزارت د رهبرۍ او رئیسانو د ګډ مجلس په ترڅ کې چې په ۱۴۴۴/۴/۷ نېټه په پوهنې وزارت کې جوړ شوی ؤ، اړونده مجلس د ګډونوالو د هر اړخیزو خبرو او نظریاتو په اوریدلو سره خپله طرحه د یوې مؤقتي حل لارې په توګه د پوهنې وزارت درانه مقام ته په لاندې ډول وړاندې کوي:

- ددې لپاره چې اسلامي او ښوونیز معیارات رعایت شي او هم عدالت په نسبي ډول په پام کې ونیول شي نو بهتره ده چې د سرو سیمو د ښځینه ښوونځیو د ۱۲ ټولګیو زده کوونکي به د یوې ورځنۍ ازموینې د سرته رسولو لپاره چې په کې ټول شرعي واجبات او اصول په پام کې نیول شوي وي د ۳ ساعتونو لپاره خپلو ښوونځیو ته حاضر شي او د تحریري ارزونې په واسطه د ۱۲ ټولګي ازموینه ترسره کړي، چې په پایله کې به یې کامیاب کسان فارغ التحصیل او پاتې کسان به اړونده ټولګي کې ابقا شي.
- دغه ازموینه به د هیواد په کچه د یوې ورځې په ترڅ کې د (۱۰۰) پوښتنو په ترتیبولو سره چې په کې د ښوونیز نصاب ټول مضامین شامل وي د یوې اسانه او سهلې طریقې له لارې عملي شي.
- د پوهنې وزارت ددې ازموینې لپاره پوره ترتیبات او سیستم په پام کې نیولی چې په ازموینه کې به ټول استادان او ناظرین ښځینه ښوونکې وي.
- د یادولو وړ ده چې د ۷-۱۱ ټولګیو پورې د ښځینه زده کوونکو ښوونیز سرنوشت به د اسلامي امارت د هغه پالیسیو په رڼا کې چې په راتلونکې کې نیول کیږي، روښانه شي.

موضوع احتراماً د پوهنې وزارت درانه مقام ته د فیصلې او اجازې اخیستلو په موخه وړاندې شوه په دې هکله څرنګه چې ستاسو درانه مقام هدایت وي، زمونږ لپاره د تعمیل وړ ده.

والسلام

د مجلس لخوا

inistry of Education
hammad Jan Khan Watt, Kabul, Afghanistan
ail: bilalsafi 242@yahoo.com / (+93) 20 210 49 87

زارت معارف
ـمد جان خان وات کابل- افغانستان
Email: bilalsafi242@yahoo.com / (+93) 020 210 49

د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education

امارت اسلامی افغانستان
وزارت معارف

د دفتر لوی ریاست
د اسنادو، هدایاتو او احکامو د تطبیق ریاست
د اسنادو او اړیکو آمریت
د اسنادو او اړیکو عمومي مدیریت

ګڼه: ۱۸۷ |

نېټه: ۱۴۴۴/۳/۲۴هـ.ق

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې محترم معینیت ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

**موضوع: د دولسم ټولګي د اناثو زده کوونکو د کلنی ازموینې په اړه لارښوونه.**

د پوهنې وزارت د مشرتابه د (۱۴۴۴/۴/۲۱هـ.ق-۱۴۰۱/۸/۲۵هـ.ش) نېټې د(۵)ګڼه مجلس د پرېکړې په اساس، لارښوونه کېږي چې د ښوونې او روزنې معینیت چې د دولسم ټولګي د اناثو زده کوونکو د کلنی ازموینې په اړه کومه طرحه جوړه کړېده او له دې مکتوب سره ضمیمه ده، یاده طرحه د پوهنې وزارت د مشرتابه له لوري تایید ده، د ښوونې او روزنې معینیت دې د یادې طرحې د اجراء په برخه کې اړوند اصولي اجرآت ترسره کړي.

والسلام

الحاج مولوي حبیب الله آغا

د پوهنې وزارت سرپرست

Ministry of Education
Mohammad Jan Khan Watt, Kabul, Afghanistan
Email: info@moe.gov.af (+93) 20 2[illegible]

afghanistan
justice
archive



امارت اسلامی افغانستان
وزارت معارف

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education
د ښوونې او روزنې معینیت
د دفتر آمریت

د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت

ګڼه: ۴۱۷۷
نېټه: ۳ / ۵ / ۱۴۴۴ هـ ق

عاجل ✓ عادي ☐ محرمانه ☐ ☐ ☐ ☐

د پوهنې وزارت د کابل ښار او ولایتونو محترمو رییسانو ته!

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ؛

**موضوع: د هېواد په کچه د سړو او ډېرو سړو سیمو د ۱۴۰۱-۱۴۴۴ ښوونیز کال د ښځینه ښوونځیو د دولسم ټولګیو د کلنۍ یوې ورځنۍ ازموینې اخیستل.**

د پوهنې وزارت د (۲۱-۴-۱۴۴۴/۱۴۰۱-۸-۲۵) نېټې د رهبرۍ د ګډ مجلس د پرېکړې پر اساس، په پام کې ده، چې د هېواد د سړو او ډېرو سړو سیمو د ښځینه ښوونځیو د دوولسم ټولګیو زده کوونکو د روان ښوونیز کال کلنۍ ازموینه د (۱۶-۹-۱۴۰۱) چې د (۱۲-۵-۱۴۴۴) نېټې سره سمون خوري اخیستل کېږي.

ددې لپاره چې یاده ازموینه په پوره خوندیتوب، عادلانه او شفافه توګه واخیستل شي، هدایت در کول کېږي، تر څو لاندې مواردو ته په کتو سره اړین اجراات او اقدامات تر سره کړي:

- د ښوونې او روزنې معینیت او اړونده مرکزي کمیسیون ته دنده سپارل کېږي، تر څو د ازموینې په اړه (د ازموینې وخت،پوښتنې، د پوښتنو کیلي، د ازموینې د اخیستلو څرنګوالي او نور تخنیکي معلومات) د ویډیو کنفرانس له لارې له اړونده رییسانو سره شریک کړي.
- ازموینه د قوس په شپاړسمه نېټه د سهار په نهه بجو شروع تر یوې بجې پورې دهېواد په سړو او ډېرو سیمو کې تر سره کېږي، اړونده رییسان مکلف دي، چې دا خبرتیا د ولسوالیو/ناحیو د پوهنې امریتونو له لارې تر ښوونځیو پورې ورسوي، تر څو د ازموینې ګډونوال سر له اوسه د ازموینې لپاره پوره چمتووالی ونیسي.
- ولایتي رییسانو، د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتو او د ښځینه ښوونځیو مدیرانو ته هدایت ورکول کېږي، تر څو دا ازموینه په پوره خوندیتوب، شفافیت او عادلانه توګه تر سره کړي او د ازموینې په ځای داسې شرایط برابر کړي، چې د ازموینې اخیستنه او نظارت د ښځینه وو ښوونکو او منسوبینو په وسیله تر سره شي او هیڅ نارینه په دې پروسه کې ګډون او شتون و نه لري.

د ازموینې ګډونوال باید حجاب او شرعي واجبات په کلکه توګه رعایت کړي.

په پای کې یو ځل بیا محترمو رییسانو ته تاکیداً هدایت ورکول کېږي، چې دا پروسه دې په پوره زمنتیا او دقت تر سره کړي او پورته موارد دې ټکی په ټکی رعایت کړي او د خپلو اجراتو راپور رسماً د ښوونې او روزنې معینیت ته راولېږي.

والسلام

الحاج حبیب الله «اغا»
د پوهنې وزارت سرپرست